د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د تصاويبو مديريت**

**د (متحدالمآلونو) څانګه**

نېټه: ۱۴۴۴/۱۱/۲۹ هـ ق
مصادف: ۱۴۰۲/۳/۲۸ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

**د متحدالمآل ګڼه: ۵۷**

---

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا غونډه په تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۵هق چي د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د جوزا د میاشتې د څلور ویشتمي نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چي د یادي غونډې دویمه موضوع داسي وه: ((د عامه حقوقو قضیو ته د رسیدګۍ په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم نمبر(۳۰۷۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۲۵هق رارسیدلی چي د یاد حکم متن په لاندي ډول دی:

((لومړۍ ماده: د عدلیې وزارت د امارت قضایاوو اداري مؤظفې دي چي اړونده قضیې د رسیدګۍ لپاره د اړونده ولایت د ښاري محکمې د عامه حقوقو دیوان ته محولي کړي.

دوه یمه ماده: محکمې مؤظفي دي چي تر امر ثاني پوري د دې حکم په لومړۍ ماده کي درج شویو قضیو ته په ابتدائي پړاو کي د اړوندي ښاري محکمې د عامه حقوقو دیوان کي رسیدګي وکړي.

دریمه ماده: د استیناف او تمیز په پړاوونو کي د عامه حقوقو قضیو ته رسیدګي دي د پخوا په شان صورت وموي.

څلورمه ماده: دغه حکم د صدرو له نېټې څخه نافذ دی.))

اوس پوښتنه داده: محاکم د عامه حقوقو کوم موضوعات واخلي او کوم وانخلي.))

د ستري محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۴۳) مورخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۵هق مصادف ۱۴۰۲/۳/۲۴هش د دویمي پریکړې په اساس داسي هدایت وکړ: ((د عامه حقوقو قضیو ته د رسیدګۍ په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم نمبر(۳۰۷۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۲۵هق کي عامه حقوق مطلق ذکر سوي دي په دې اساس دي ټولو محکمو ته هدایت وشي تر څو د مشرتابه محترم عالي مقام د ذکر شوي حکم مطابق، یاد موضوعات د قضایای امارت تر استولو وروسته واخلي او په شرعي طریقه دي حل او فصل کړي.

یادونه: د عامه حقوقو دیوان په باره کي د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا شفاهي هدایت شوی چي: په یاد حکم کي د عامه حقوقو دیوان څخه مراد (مدني دیوان) دی.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم د ستري محکمې د عالي شورا د هدایت په اساس د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کي اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۲۹/۱۱/۱۴۴۴ هـ ق

---


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af